د ښځو د سولې لنډیز – ۲۰۲۱ کال د مارچ میاشت


په افغانستان کې د یو بشپړ اوربند په اړه د افغانو ښځو نظرونه

لنډیز:


- **له کندهار، ننګرهار، بامیان، بلخ، هلمند، تخار، هرات، دایکندي، پنجشېر، او جوزجان ولایتونو څخه له ۲،۲۱۲ نجونو او ښځو څخه چې عمرونه یې له ۱۸ څخه تر ۶۰ کلونو پورې وو، په افغانستان کې د احتمالي اوربند په اړه د ۲۰۲۱ کال د مارچ میاشتې د ښځو د سولې لنډیز لخوا نظر واخیستل شو.**
- **٪۲۷،۲۲ ځواب ویونکې په دې باور دي چې "اروبند د وسله وال تاوتریخوالي ودرولو ته و ایي"، ۱۵،۷۸ په دې باور دي چې دا "په تاوتریخوالي کې کموالی دی"، ٪۱۲،۳۴ و ایي چې "د هرراز جګړې مؤقتي درېدل دي" او ۴۱% په دې باور دي چې دا کیدې شي "ټول پورتني موارد دي" وي.**
- **٪۹۹،۵ ځواب ویونکو وویل چې د اوربند په هوکړه کې باید په یو داسې مکانیزم باندې رسمي ژمنه شامله وي چې د اوربند د تطبیق په ترڅ کې د راپورته کېدونکو شخړو په هوارولو کې له لوړیو سره مرسته وکړي.**
- **٪۹۸،۶ ځواب ویونکو وویل چې ښځې او مدني ټولنه باید د اوربند په څارنه کې ګډون ولري.**
- **٪۳۴،۰۴ ځواب ویونکو وویل چې د مدني ټولنې بنسټونه باید د اوربند د څارنې په کمېسیون کې شتون ولري، او ٪۳۳،۶۳ د ولایتي دولتي بنسټونو د ګډون غوښتنه کوله. ۱۰،۹۹٪ سلنه ځواب ویونکو د قومي مشرانو ګډون غوښت، ۹،۱۳٪ ځواب ویونکو وویل چې د ولایتي شورا ګانو غړي دې پکې شامل وي، ۴،۸۸٪ وویل چې دیني عالمان، ۴،۳۴٪ وویل د ولسوالۍ اوکلیو شورا ګانې، او ۲،۶۲٪ وویل چې د طالبانو سیمه ییز غړي دې پکې شتون ولري.**

شالید او د سروې پوښتنې: په دوحه کې د خبرو اترو له پیل څخه را په دې خوا د بشپړ اوربند مسئله د بحثونو بنسټیزه موضوع ګرځېدلې ده. تر دې دمه د جمهوریت مذاکراتي ډلې په اروبند باندې د خبرو اترو د پیلامې په توګه ټینګار کړی دی خو طالبانو ویلي چې اوربند باید وروسته له دې چې خبرې اترې پیل شي، د اجنډا یوه برخه وګڼل شي. پر دې سربېره، د خبرواترو ډلو لخوا د دې په هکله کوم تعریف ندی وړاندې شوی چې څه کولای شي په تاوتریخوالي کې کموالی او یا یو بشپړ اوربند رامنځته کړي. له همدې امله، له دې چې د هېڅ لوري لخوا د اوربند په اړه بحث یا ژمنه نده شوې او د دې کوم واضح تعریف نشته چې څه کولای شي چې دا رامنځته کړي، د مدني ټولنې فعالان هم د عامو خلکو د تلفاتو زیاتېدو په اړه او هم د دې په اړه چې لا ښکاره نده چې اوربند یا د تاوتریخوالي کموالي ته به د لوړیو لخوا د هوکړې په صورت کې څرنګه غبرګون وښودل شي، څرنګه به تطبیق شي او څرنګه به یې څارنه وشي، ژوره اندېښنه لري.


۱ پوښتنه: کوم تعریف له اوربند څخه ستاسو درک تر ټولو ښه منعکسوی؟




۲مه پوښتنه: ستاسو په نظر کوم موارد باید د لوریو تر منځ د اوربند په هوکړه کې شامل شي تر څو ډاډ ترلاسه شي چې دا اوربند به د سولې لوي بهیر سره مرسته کوي؟



۳ پوښتنه: آیا ښځې او مدني ټولنه باید د اوربند په ځارنه او تثبیت کې ګډون ولري؟





د شپږو ولایتونو (هرات، بامیان، کندهار، بلخ، هلمند او تخار) متمرکز ډله ییز بحثونه :

له ګډونوالو څخه د سروې د پایلو په اړه او د دې په اړه چې هغوی به خپله څرنګه ځواب ویلای وای، نظروغوښتل شو.

د متمرکز ډله ییز بحث د ګډونوالو په نظر، په ولایتي کچه ښځو ته د اوربند د دوام په اړه د ژورې پوهې لرل اړین دي. د متمرکز ډله ییز بحث ګډونوالو فکر کاوه چې دا د هغوی لپاره مهمه ده ځکه چې داسې پوهه لرل ښځو ته دا وړتیا ورکوي چې په معناداره توګه د ولایت او ټولنې په کچه د یو احتمالي اوربند په څارنه، تطبیق او د سرغړونو په پېژندنه کې ګډون وکړي. د ګډونوالو په نظر، دغه حقیقت چې د جګړې تر ټولو بدې اغېزې پر ښځو باندې وي او یو احتمالي اوربند کولای شي د هغوي پر ژوند اغېزه وکړي، دا اړتیا رامنځته کوي چې هغوی د اوربند په اړه ژوره پوهه ترلاسه کړي. ګډونوالو ټینګار وکړ چې داسې پوهه کولای شي له ښځو سره مرسته وکړي چې په شي څرنګه کولای شي د اوربند په تطبیق کې مرسته وکړي یا وندې واخلي. زمونږ له ګډونوالو څخه یوې تنې یادونه وکړه چې د اوربند د تطبیق په څارنه کې د ښځو ګډون کولای شي د یوې تلپاتې سولې په لاسته راوړلو کې مرسته وکړي.

کله چې له ګډونوالو څخه پوښتنه وشوه چې افغان حکومت او د مدني ټولنې بنسټونه څه کولای شي تر څو ډاډ ترلاسه کړي چې ښځې په خپل ولایت کې د اوربند د بیلابیلو ډولونو په اړه ښه پوهه ولري، ګډونوالو د حکومت او د مدني ټولنې بنسټونو تر منځ ګډو کړنو او همدارنګه د پوهاوي خپلواکو پروګرامونو او کمپاینونو ته اشاره وکړه. ګډونوالو د بیلابیلو وسایلو سپارښتنه وکړه چې د هغوی په باور د پوهاوي لوړولو په ګډو او خپلواکو کړنو او پروګرامونو کې یې کارول مهم دي، د رسنیو، ټولنیزو شبکو، جوماتونو، او د زده کړې بنسټونو په شمول. هغوی همدارنګه په دې کمپاینونو کې د دیني علماوو او سیمه ییزو متنفذو او مخورو په ګډون ټینګار وکړ. یوه بله د پام وړ مسئله چې په متمرکزو ډله ییزو بحثونو کې راښکاره شوه، په کلیو او باندو کې تر نظر لاندې ډلو باندې په پام سره د پیغامونو د سیمه ییز کېدو اهمیت دی. په پای کې ګډونوالو د ټولنې د بیلابیلو ډلو ترمنځ د بحثونو او خبرو اترو د آسانولو سپارښتنه وکړه چې د دوی په اند د اوربند د بیلابیلو ډولونو په اړه د ښځو د پوهاوي لوړولو یوه کټوره وسیله ده.

له ګډونوالو څخه پوښتنه وشوه چې د هغوی په نظر څرنګه کېدای شي چې ښځې او مدني ټولنه عملاً د احتمالي اوربند په څارنه کې ګډون وکړي. یوه نظریه دا وه چې ښځې دې د ښځینه څارونکو یوه شبکه یا داسې ډلې جوړې کړي چې وکولای شي د ټولنې په کچه د اوربند د تطبیق څارنه کې او د اوربند د سرغړونو په پېژندنه او رپوټ ورکونه کې وندې ولري. د ګډونوالو په باور، دغه تکلاره د بریالیتوب لوړ امکان له ځانه سره لري ځکه چې ښځې سیمو او ګاونډ ته ښه لاسرسی لري. ګډونوالو ټینګار وکړ چې ښځې د خپلو ټولنو دننه ژوند کوي او پدې خاطر د اوربند د تطبیق په تړاو د وضعیت د کره څارنې لپاره تر ټولو مناسبې دي.

کډونوالو یادونه وکړه چې د ښځو د سولې کړۍ کېدای شي چې یوه له داسې ډلو څخه وي چې د اوربند د تطبیق په څارنه کې مهم نقش ولوبوي. پر دې سربېره، کډونوالو وویل چې ښځې کولای شي د ټولنیزو رسینو او یوې ځانګړې ټیلفوني شمېرې (hotline) له لارې د اوربند له سرغړونو څخه راپور ورکړي.

میتودولوژي: د "واوره" د سروې پوښتنې هغو بحثونو ته په کتو سره جوړېږي چې د خبرو اترو پر مېز ترسره کېږي. څېړونکي هره میاشت، د Likert میتودولوژیکي تکلارې په کارولو سره څلور ټرلې پوښتنې (Close-ended) او یوه خلاصه پوښتنه (Open-ended) چې سروې کوونکي یې (د کډونوالو د موافقې له ترلاسه کولو وروسته) په خپلو ټلیفوني سروې ګانو کې کاروي او د سولې تسهیلوونکي یې په ولایتونو کې د مخامخ سروې ګانو لپاره کاروي. وروسته له هغې، د ټلفوني سروې ګانو او مخامخ سروې ګانو موندنې راغونډېږي او کلیدي موندنې رېې راتولېږي تر څو په متمرکزو ډله ییزو بحثونو کې، چې تر دې وروسته د ټولنې له ښځینه مشرانو (د "واوره" ، د ښځو د سولې د کړیو غړو) سره ترسره کېږي، په پام کې ونیول شي. "واوره" ، د راټولو شوو غږونو د مثلث له لارې ډاډ ترلاسه کوي چې خپلې موندنې د بیلابیلو میتودولوژیکي تکلارو په آزمایلو سره چک کړي تر څو ډاډ ترلاسه کړي چې دغه موندنې شته حقایق منعکس کړي. وروسته له دې دغه موندنې د ښځو د سولې په یو لنډیز کې راغونډېږي چې "واوره" یې نه یوازې د خبرواترو لوړیو او د سولې په بهیر کې ښکېلو مرستندویانو ته، بلکې بېرته یې (د تاییدِ د کړۍ له لارې – feedback loop) سروې شوو ځواب ویونکو ته هم لېږي تر څو هغوی د هېواد په کوټ کوټ کې د ښځو له نظرونو څخه خبر شي.

د "واوره" په اړه: "واوره" یو نوښت دی چې د افغانې ټولنې له بیلابیلو برخو څخه د سولې روانو خبرواترو پورې اړوندو مسائلو په اړه د ښځو نظرونه راټولوي او دغه نظرونه د خبرواترو له مېز، د سولې په بهیر کې له ښکېلو مرستندویانو، د مدني ټولنې بنسټونو او عامو خلکو سره شریکوي. پر دې سربېره، "واوره" په لومړۍ رده - Track I کې له شته ښځو سره د خپلو موندنو په شریکولو سره هغه ته دا ورتیا ورکوي چې د ولس په منځ کې د ښځو اوچت شوي غږونه خبرو اترو ډلو ته ورسوي. د بدیل په توګه، د "واوره" یو مهم فعالیت دا دی چې د خپلې سروې موندنې د پیغامونو د ټکنالوژۍ – SMS له لارې بېرته له هغو کسانو سره شریکې کړي چې سروې یې شوې ده، او پدې توګه په دې بهیر کې له هغوی سره د ذینفعانو /شریکانو په شان چلند کوي.